د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د هیواد په شمال کې د علومو او ریاضي د ټولګیو دپاره نوي لابراتواري تجهیزات

تالقان، تخار، د ۱۳۹۴ کال د کب ۲۷ نیټه – په تیرو دریو اونیو کې د تخار، بلخ، بدخشان او سمنګان په ولایتونو کې ۵۰ درسي موسسو د علومو او ریاضي د ټولګیو دپاره یوزیات شمیر لابراتواري توکي او تجهیزات په لاس راوړل. په دغو توکو او تجهیزاتو کې چې د افغان-آلمان د همکاری د پروګرام له خوا په افغانستان کې د بنسټیز او ثانوي زده کړو دپاره ورکړل شول، د ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژۍ په ټولګیو کې د تجربو د ترسره کولو په موخه د لابراتوار بشپړ خونې، فرنیچر او تجهیزات شامل وو.

نوموړي لابراتوارونه هم د زده کوونکو او هم د راتلونکي ښوونکو دپاره د زده کړې عملي شرایط برابروي او کولای شي په افغانستان کې د علومو او ریاضی د تدریس د کیفیت په سمون کې مرسته وکړي. د نویو تجهیزاتو په لړلو سره به راتلونکي ښوونکي او زده کوونکي وکولای شي چې د علومو په داسې ټولګیو کې چې زده کوونکي د پاملرنې په مرکز کې ځای ولري او هریو په کې ونډه واخلي، تیوري د عمل په واقعي ژوند کې پلي کړي. د ۳۲۵۰۰ تنو زیات زده کوونکي ښوونکي او زده کوونکي به وکولای شي چې په نوموړو څلورو ولایتونو کې د دغو تجهیزاتو نه ګټه پورته کړي.

د تجهیزاتو او فرنیچر ټولیز لګښت چې ۹۹۱۷۳۸ ډالرو (شاوخوا ۲۷،۲ میلیونو افغانیو) ته رسیږي د سویس او المان له خوا تمویل شویدی. د سویس حکومت چې په افغانستان کې د بنسټیزو او ثانوي زده کړې د پروګرام د تمویل پارټنر ګڼل کیږي، د ۵۰ لابراتوارونو له ډلې څخه، چې ۳۴ ښوونځیو اود ښوونکو د پراختیا ۱۲ مرکزونو ته ورکړل شویدي، ۴۴ لابراتوارونه تمویل کړیدي.

د تخار ولایت والی ډاکټر محمد یونس ضیا د لابراتوارونو د تسلیمولو په مراسمو کې د خپلې په ترڅ کې د پوهنې په سکتور کې د نوموړو لابراتوارونو په ارزښت باندې ټینګار وکړ او داسې یې وویل" :دې منابعو سره مونږ کولای شو زده کونکو ته د عملی زده کړې فرصتونه برابر کړو. ما په افغانستان او نورو هیوادونو کې زده کړې کړې د ټولو نه غوره د زده کړې لاره زده کونکو ته لابراتوار برابرول او د پوهې عملی کار برابرول دی."

په نوموړو مراسمو کې د افغانستان د پوهنې وزارت د ولایتونو د پوهنې د ریاست کارکوونکو، د پوهنې د سکتور برخه والو، د دارالمعلمینو رئیسانو او د ښوونځیو او د ولسوالیو د ښوونکو د پراختیا د مرکزونو استازو هم ګډون کړی وو.

د بلخ، تخار، بدخشان او سمنګان په ولایتونو کې د بنسټیز او ثانوي زده کړو دپاره د افغان-المان د همکاری پروګرام (BEPA) هم د تجهیزاتو د تمویل له لارې او هم د ښوونکو او لکچرورکوونکو دپاره د سیستماتیکي روزنې د برابرولو له لارې د ریاضي او علومو د زده کړې ملاتړ کوي ترڅو د افغانستان د زده کوونکو دپاره د زده کړې د لوړې کچې د تامینولو په لاره کې مرسته وکړي. په ټولیزه توګه، د نوموړي پروګرام له لارې ۱۸۰ لابراتوارونه او تجهیزات د افغانستان په شمال کې د ښوونکې د روزنې موسسو، تجربوي ښوونځیو، د ابتدایي زده کړې د پراختیا مرکزونو او اسلامي ښوونځیو ته ورکړل شویدي.

د بیپا (BEPA) پروګرام چې د ۲۰۰۵ کال راهیسې په افغانستان کې فعالیت کوي د افغان-المان د همکاری یو ګډ پروګرام دی چې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د اداري له پلوه د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) او د سویس د پراختیایي همکاری د موسسې (DEZA) په استازیتوب پرمخ بیول کیږي. د نوموړي پروګرام موخه داده چې په کابل کې د پوهنې د وزارت او په ولایتونو کې د ښوونکي د روزنې د موسسو او د هغه وزارت د ریاستونو سره یوځای په هیواد کې د ښوونکو د روزنې دپاره یو سالم بنسټ جوړ کړي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de